مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر ۲۰۲۶/۰۴/۲۲

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(نهمه برخه)



(د لومړي وزیر ذوالفقارعلي بوټو، مشر زوی، میر مرتضا بوټو)

### پنجابی پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګانې(۶)

### د وژل شوي لومړي وزیر ذوالفقارعلي د کورنۍ غبرګون

هغه مهال چې د جنرال ضیاء حکومت له افغان مجاهدینو ملاتړ کاوه نو په غبرګون کې افغان حکومت د پوځي دیکتاتور جنرال ضیاء مخالفینو ته په افغانستان کې ځای ورکړ او له مخالفینو سره یې د پاکستان خلاف مرستي پیل کړې، پر یو شمېر بلوڅو او پښتنو سربېره (چې د جنرال ضیاء د پوځي حکومت مخالفین وو) د پاکستان د وژل شوي لومړي وزیر ذوالفقارعلي بوټو د ګوند او کورنۍ غړو ته هم په کابل کې ځای ورکړ شو، د ذوالفقارعلي بوټو له وژلو وروسته د هغه زامن میرمرتضا بوټو او شاه نواز بوټو په تبعید کې اوسیدل او په کابل کې یې د خپل پلار د وژل کیدو په غبرګون کې د **(الذوالفقار)** په نوم د جنرال ضیاء پر خلاف وسلموال ډله جوړه کړه.[1]

میرمرتضا بوټو او شاه نواز بوټو، په کابل کې د (الذوالفقار) په چریکي ځواک کې، د جنرال ضیاء مخالفین، په ځانګړي توګه د پاکستان پیپلز پارټي (پیپیپي) کسان راټول کړي وو او «په کابل کې د دغو دوو ورونو لهخوا روزل کیدل.»[2]

ذوالفقار ډلي له ډیورنډ کرښې ها خوا، په ځانګړي توګه په کراچۍ او لاهور کې د جنرال ضیاء د پوځي رژیم پر پوځي او سیاسي اهدافو وسلهوال بریدونه کول، په دې چاودنو او هدفي بریدونو کې پوځیان او استخباراتي کسان په نښه کیدل، د ذوالفقار ډلي تر ټولو مهمه او بنسټیزه موخه دا وه چې د ذوالفقارعلي بوټو پلویان او د پاکستان د پیپلز پارټي غړي چې د جنرال ضیاء په زندانونو کې بندیان وو، راخوشي کړي او پوځي رژیم ډیموکراتیکو ټاکنو ته اړ کړي چې د همدې لپاره یې د فشار اچولو ګواښونه، بریدونه او تخریبي فعالیتونه ترسره کول.

[1]: ستې، نجام: معضل مرتضی بوټو، جمعه تایمز، (1993
[2]: بېنظیر بوټو: دختر شرق. فارسي ژباړه: علي‌رضا عیاري. ۳۷۵مخ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زه (لیکوال) چې د هماغې زماني عیني شاهد یم، د اتیایمې میلادي لسیزې په لومړیو کې، ډیورنډ کرښې ته په څېرمه ولایتونو او ولسوالیو کې د افغان حکومت لهخوا د ذوالفقار ډلې لپاره اړین امکانات برابر شوي وو چې پر بنسټ یې له هغو سیمو څخه په اسانۍ سره چریکي عملیات ترسره کولی شول.



(د تښتوونکو مشر عالمګیر ټیپ له الوتکې د راکوزیدو په حال کې)

د جنرال ضیاء لهخوا د لومړي وزیر ذوالفقارعلي بوټو له ناروا اعدام وروسته د پاکستان ډېرى وګړي، په ځانګړي توګه د پیپلز پارټۍ غړي ډېر په قهر وو چې له ضیاء څخه د غچ اخیستلو ارمان یې درلود. دا چې په پاکستان کې د (پيپيپي) ګوند ډېر اغېزمن او لوى تشکیل درلود، همدا لامل ؤ چې د ذوالفقار ډلې پټ او څرګند عملیات تر ډېر بریالي وو.

د ذوالفقار ډلې تر ټولو مشهوره پېښه د ۱۹۸۱ز. کال د مارچ په ۳یمه نېټه، د پاکستان د پيایاې د بوینګ ۷۲۰- (B-030) الوتکې یرغمل کول وو چې ۱۴۸ تنو مسافرو سفر په کې کاوه چې ۵ تنه امریکایان هم په کې وو.

له دې وړاندې، د ذوالفقار ډلې مشر، مرتضا بوټو د ۱۹۷۹ز. کال د جولای په میاشت کې د حفیظ الله امین د استخباراتو **(اګسا[3])** رییس اسدالله سروري ته د پاکستانی الوتکې د تښتولو طرحه وړاندې کړې وه خو هغه ورته ویلې وو چې الوتکه کابل ته راونه تښتوي، مشوره یې ورکړه چې بیروت او یا د لیبیا پلازمېنې طرابلس ته یې ورسوئ.

لږه موده وروسته کله چې ډاکټر نجیب الله د (خدمات امنیت دولتی-خاد) د رئیس په توګه وټاکل شو، مرتضا بوټو هماغه د الوتکې یرغمل کولو طرحه ډاکټر نجیب الله ته وړاندې کړه، هغه هم وویل چې باید الوتکه کابل ته راننهوستل شي خو ډاکټر نجیب الله هغه مهال حیران شو چې د پاکستان یوه پيایاې الوتکه کابل ته راوستل شوه. پېښه داسې وه چې نوموړې الوتکې له کراچۍ څخه پېښور ته الوتنه درلوده نو **د ذوالفقار ډلې ۳ تنه وسلهوال، په داسې حال کې د کراچۍ هوايي ډګر ته ننوتل او الوتکې ته پورته شول چې د نوموړي هوايي ډګر د پلټنې (تلاشۍ) اکسرې ماشین خراب او یا په لوی لاس له کاره لویدلی ؤ.**

کله چې الوتکې الوتنه وکړه او پېښور ته نږدې شوه، د تښتوونکو مشر (عالمګیر ټیپو) د الوتکې کابین ته ننوت، پیلوټان یې اړ کړل چې د سوریې پلازمېنې (دمشق) پر لور الوتنې ته دوام ورکړي. پیلوټانو وویل، دومره تېل نه لرو چې دمشق ته ورسیږو. هغوی وویل: هر ډول چې کیږي له پاکستان څخه الوتکه وباسه.

هغه وو چې الوتکه د کابل په هوايي ډګر کې کېناسته. ډاکټر نجیب الله او مرتضا بوټو دواړه هوايي ډګر ته ورغلل، تښتوونکو وویل چې د تېلو د کمې له امله دلته راغلي یو.

تښتوونکو مرتضا بوټو ته وویل چې په الوتکه کې ۵ تنه امریکایان او یو تن پاکستانی افسر [ډیپلومات] طارق رحیم د جنرال رحیمالدین خان زوى هم ناست دي (جنرال رحیمالدین د جنرال ضیاء نږدې کس ؤ، هغه د بوټو پر ضد له جنرال ضیاء سره په کودتا کې ښکېل ؤ.[4]) مرتضا بوټو وویل: داسې ښکاري چې ښه غټ کب (ماهي) لاس ته راغلی دی.

[3]: د افغانستان د ګټو د ساتنې اداره.

[4]: Ranter, Harro. "Accident Description". Retrieved August 8, 2021. https://aviation-safety.net/database/record.php?id=19810302-1


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په څیر و لولئ

تښتوونکو له جنرال ضیا غوښنه وکړه چې د پیپیپي ټول ۹۲ تنه سیاسي بندیان دې په څو ساعتونو کې خوشي کړي.
«چې په دغو بندیانو کې د تښتوونکو مشر عالمګیر ټیپو، پلار او ورونه هم وو.»[5]
تښتوونکو د مارچ په ۴مه نیټه، ۲۹ تنه برمته کسان (چې ښځې، ماشومان او ناروغان وو) په کابل کې خوشې کړل. دا خوشې شوي کسان د مارچ په ۵مه نیټه د PIA د فوکر F27 الوتکې په وسیله پېښور ته ولېږدول شول. همدارنګه یو بل ناروغ سړی هم د مارچ په ۵مه خوشې شو.
د تښتوونکو ژمنه پای ته ورسیده خو جنرال ضیاء د تښتوونکو غوښتنه ونه منله، هغه وو چې **د مارچ په ۶مه نیټه تښتوونکو د ټولو مسافرو پر وړاندې یو پاکستانی ډیپلومات (طارق رحیم) دړې مرمۍ وویشت او هغه یې د کابل په هوايي ډګر کې د الوتکې له دروازې ښکته وغورځاوه.**
د مارچ په ۷مه نیټه، تښتوونکو دوه ناروغ پاکستانیان هم خوشې کړل او دوه تنه امریکایی ښځې چې غوښتل یې په الوتکه کې پاتې شي، په زور ښکته کړې. د الوتکې دوه تنه ښځینه هوايي میلمه‌پالو (ایر هوسټس) ته هم د وتلو اجازه ورکړل شوه خو دواړو په زړورتیا پرېکړه وکړه چې له نورو مسافرو سره پاتې کیږي.[6] تښتوونکو ګوت‌څنډنه وکړه چې که غوښتنه یې ونه منل شي هره ورځ به یو، یو کس وژل کیږي. جنرال ضیاء بیا هم څه غبرګون ښکاره نه کړ.

دا مهال چې د پیپیپي ګوند ځوانه مشره بې‌نظیر بوټو چې د کراچۍ په زندان کې بندي وه، د الوتکې تښتولو عمل یې وغانده، که څه هم دا کار د ذوالفقارعلي بوټو د اعدام د غچ اخیستنې په نوم ترسره شوی ؤ.

له بلې خوا ډاکټر نجیب الله د بین المللي فشار لاندې ؤ چې باید الوتکه له کابله وایستل شي. په پای کې پرېکړه وشوه چې الوتکه دې له کابله بهر شي.

الوتکه د مارچ په ۸مه نیټه له کابله د سوریې پلازمېنې دمشق په لور روانه شوه، د دمشق په هوايي ډګر کې د سوریې د استخباراتو یو پوه او هوښیار افسر **(محمد الخولي)** د دوی هرکلي ته راغی، هغه تښتوونکو ته مشوره ورکړه چې د پاکستانیو وګړو د وژلو په تهدید څه نه ترلاسه کیږي، **تاسو د ۳ تنو امریکايي وګړو د وژلو له تهدیده کار واخلئ، ووایئ چې دا کسان د سي‌ای‌اې جاسوسان دي... .**
**دغه تهدید نتیجه ورکړه، امریکایانو پر جنرال ضیاء فشار راوړ او هغه یې اړ کړ، د پاکستان د پیپلز پارټۍ ۵۵ تنه بندي کسان خوشې او دمشق ته ولېږي.**
«د ټاکلي وخت څخه یوازې ۲۰ دقیقې مخکې، جنرال ضیاء د تښتوونکو غوښتنه ومنله خو ستونزه لا پای ته نه وه رسیدلې، د پاکستان په زندانونو کې یو تن بندي ورک ؤ او لا نه ؤ موندل شوی او ځینو نورو بندیانو نه غوښتل له پاکستانه بهر ووځي. په پای کې د مارچ په ۱۵مه نیټه د PIA یوه بوبینګ ۷۰۷ الوتکې ۵۴ بندیان د کراچۍ ښارله هوايي ډګر څخه د سوریې حلب ښار هوايي ډګر ته ورسول.»[7] پېښه وروسته له ۱۳ ورځو پای ته ورسیده.
(په دې مستقیم لینک کې د الوتکې د یرغمل کولو ځینې برخې کتلی شئ:
https://www.youtube.com/watch?v=Q7hPb-vGr9g

دا بریالي عملیات، د دې لامل شول چې ډېر خوشې کړای شوي بندي کسان له الذوالفقار ډلې سره یو ځای شي او ډېر شمېر نور کسان د قبایلي سیمو څخه افغانستان ته واوښتل او د ذوالفقار ډلې سره یو ځای شول.

د ذوالفقار سازمان د جنرال ضیاء پلویانو، تروریستي ډله بلله، په ځانګړي توګه د پاکستان د ای‌اېس‌ای اداري (چې په خپله یوه ډېره بدنامه نړۍواله تروریستي اداره ده.)
د ای‌اېس‌ای ډګروال محمد یوسف لیکي چې «میر مرتضی بوټو په کابل کې د جلاوطنۍ پر مهال د ضیاء پر ضد یو ترهګر سازمان د (ذوالفقار) په نوم جوړ کړ چې هلته یې د فلسطین د آزادۍ سازمان له استازو سره همکاري پیل کړه،

---

[5]: https://www.upi.com/Archives/1981/03/06/Hijackers-holding-a-Pakistani-jetliner-at-Kabul-Afghanistan-today/9643352702800
[6]:https://www.historyofpia.com/hijackings.htm
[7]:https://www.historyofpia.com/hijackings.htm


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

دغه سازمان له کابل او دمشق څخه د وژنو، جګړو او تخریبي فعالیتونو لړی پیل کړه چې په ۱۹۸۱ز. کال کې د پی‌ای‌اې مسافروړونکي الوتکي یرغمل کول هم په کې شامل وو.»[8]

که د جنرال ضیاء پلویانو د ذوالفقار سازمان ترهګره ډله بللە خو د ذوالفقار پلویانو لپاره دا د باطل پر وړاندې د حق جګړه وه.
خو زه چې یو بې‌پرې کس یم، زما په نظر د ذوالفقار ډلې عملیات د دیکتاتور جنرال ضیاء پر وړاندې یوه سیاسي جګړه وه، نه ترهګریز عملیات، د ذوالفقار ډلې بنسټیزې موخې دا وې چې د پاکستان د خلکو ګوند (پي‌پي‌پي) سیاسي بندیانو د جنرال ضیاء له زندانونو خوشې کړي او د پوځې رژیم پر ځای یو ډیموکراتیک حکومت رامنځ کړي او د خپل پلار د اعدام غچ واخلي. دغو موخو ته په کتو، ویلی شو چې د ذوالفقار ډلې عملیات د پاکستان د پوځي حکومت پر وړاندې یوه مشروع جګړه وه.

د پاکستان د پي‌ای‌اې الوتکي له یرغمل کولو وروسته جنرال ضیاء لاپسې په قهر شو، هغه د یو ژوبلشوي منګور (مار) په څېر خپلې هڅې لاپسې ګړندۍ کړې چې د پخواني لومړي وزیر ذوالفقارعلي بوټو زامن له منځه یوسي، **جنرال ضیاء ای‌اېس‌ای او په پاکستان کې ځینو جهادي افغان باندونو ته دنده وسپارله چې په هر ډول کیږی په کابل کې د بوټو زامن ووژني.**

مرتضا بوټو او شاه نواز بوټو، دواړه ورونه په کابل کې اوسیدل او په کابل کې یې له دوو خویندو سره ودونه کړي وو چې یوه یې ریحانه او بله یې فوزیه نومیده خو دا مالومه نه ده چې دا دوه خویندې په قوم څوک وې؟
بې‌نظیر بوټو د خپلو ورونو د ترور په اړه، د خپلو خاطرو په کتاب کې لیکي چې په کابل کې **«د میر مرتضا او شاه نواز د میرمنو، یو پخواني نوکر هڅه وکړه، مرتضا او شاه نواز، په یو ډول وژونکي ماده (چې په خوړو کې یې ګډه کړې وه) مسموم کړي، له نیکه مرغه، وړاندې له هغې چې خواړه زما ورونه وخوري، د دوی سپي هغه زهرجن خواړه وخوړل چې له امله یې سپی مړ شوی. نوکر خپل جرم ومانه او د دوی په پېښو کې پرېوت، د مرتضا میرمنې فوزیې، د نوکر د ژغورلو په موخه مداخله وکړه نو زما ورونو د هغه له وژلو ډډه وکړه، نوکر وویل:«د دې کار په بدل کې مجاهدینو پیسې راکړې وې، هغوی غوښتل ضیاء خوشال کړی.»**
بل ځل پر شاه نواز باندې چې د موټر په مخ سیټ کې له خپل ورور سره ناست ؤ، برید وشو، هغه مهال له شاه نواز څخه کوم څیز غورځیدلی ؤ چې دواړه ورونو د هغه د لټون لپاره خپل سرونه ټیټ کړل **چې په دې شیبه کې د وسلې ډزې وشو او مرمی له هغه ځایه تېره شوه چې که دوی خپل سرونه، نه وای ټیټ کړي ګولی به د شاه نواز پر سر لګیدلي وای، ځکه چې هدف شاه نواز ؤ، نه مرتضا.**

هغه مهال چې زما ورونه په پاکستان کې اوسیدل، د پښتنو له قوم څخه یو کس له مرتضا سره لیدنه کړې وه، هغه ورته وویلې وو چې **ضیاء لومړی د شاه نواز سر غواړي. د ضیاء غوښتنه داسې وه چې لومړی باید شاه نواز ووژل شي، بیا مرتضا.**[9]

بې‌نظیر بوټو زیاتوي: دا شوني ده چې دا خبره کاملاً رښتیا وي. مرتضا راته وویل: زه تر ډېره یو سیاسي کس یم خو دا شاه نواز دی چې تل د چیریکي ځواکونو په روزنه لګیا دی، شاه نواز نظامي تخصص لري چې ډېر تهدیدونکی دی.[10]

---

[8]: تلک خرس، ډګروال محمد یوسف او مارک ادکین، فارسي ژباړه: ډاکټر نثار احمد صمد. ۲۰مخ
[9]: بې‌نظیر بوټو: دختر شرق. فارسي ژباړه: علي‌رضا عیاري.۳۸۰مخ
[10]: هماغه سرچینه. ۳۸۱مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولــئ







نېټه:۱۴۰۵/۲/۲ل. ل

**نور بیا**

د ښاغلي محمد انور اڅر نوري ليکني په دی لينک کې ولولئ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ